# د بې اسناده افغان کډوالو راستنېدنه

## اونيز راپور

## ۲۲-۲۸ جنوري ۲۰۲۱

اړين ټکي-۲۰۲۱
د روان کال ۲۰۲۱ جنوری میاشتې د شروع څخه تر دا مهاله له ایران او پاکستان څخه ټولیزه راستنېدنه-۵۳،۰۵۱وګړي.
په ۲۰۲۱ کې له ایران څخه ټوله راستنېدنه ۵۲،۵۱۰ وګړي.
په ۲۰۲۱ کې له پاکستان څخه ټوله راستنېدنه ۵۴۱وګړي.

د تيرې اوونۍ په جریان کې له ایران څخه ۱۶،۰۱۴بې اسناده افغان کډوال راستانه شوی دي چې ددې جملې څخه ۳٪ (۵۵۴ وګړو) سره مرسته شوی ده.

د تيرې اوونۍ په جریان کې له پاکستان څخه ۱۷۴ بې اسناده افغان کډوال راستانه شوی دي چې ددې جملې څخه ۹۵٪ (۱۶۶وګړو) سره مرسته شوی ده.



د کندهار ولایت د عامی روغتیا ریاست ریس ډاکټر طاووس نادری د جنوری په ۲۷ نیټه د IOMپولې دواړو خواو ته د راستنیدنې او میشته کیدنې ولایتي همغږی کونکی او د مهاجرت روغتیایی پروګرام ایمرجنسی برخې همغږی کونکی ته د غوره روغتیایی خدمتونو وړاندی کولو له امله د قدردانۍ تصدیق نامه ډالۍ کړه. IOM جنوری ۲۰۲۱

د ایران څخه راستنېدنه:

د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست د سرحداتو نظارتي ټیم په وینا، په ټولیزه توګه ۱۶،۰۱۴ بې اسناده افغان کډوال په خپله خوښه د نیمروز (میلک) او هرات (اسلام قلعه) له لارې د ۲۰۲۱ میلادی کال د ۲۲ جنوري څخه د جنورۍ تر ۲۸ نېټې پورې بیرته هېواد ته راستانه شوي او یا شړل شوي دي، چې ۸،۰۳۲ افراد په خپله خوښه راستانه شوي او۷،۸۹۲ شړل شوي دي. د ۲۰۲۱ لمریز کال دجنورۍ د لومړۍ نېټې څخه تر اوسه پورې په عمومي توګه (۵۲،۵۱۰) بې اسناده افغان کډوال د ایران څخه راستانه شوي دي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په مجموعي توګه د ایران څخه ۵۵۴ بې اسناده افغان کډوال چې (۳٪) سلنه کیږي د ایران څخه د رارسیدو وروسته بشري مرستې دهرات او نیمروز عبوری مرکزونو کې ترسره کړې دی.

کورونا ویرس معلومات: د کډوالۍ نړیوال سازمان د کډوالو د راستنیدنې، دکډوالو د روغتیا او د بې ځایه کیدنې تعقیبي میټریکس (DTM) پروګرامونو له لارې د چمتووالي او اضطراري همغږۍ کړنو په حل کې د عامې روغیتا وزارت او د روغتیا نړیوال سازمان سره فعاله توګه مرسته کوي.د IOM بنسټیز ملاتړ د روغتیا نړیوال سازمان نړیوال غبرګون برخې سره سم لکه ۱. همغږي، ۲) د خطر عامه پوهاوی او د ټولنې ښکیلتیا، ۳) څارنه / د بې ځایه کیدنې تعقیبي میټریکس (DTM) او د داخیلیدلو نقطېو کې سره سم ترسره کیږی. په فعالیتونو کې د لومړۍ کرښې روغتیایی کارمندانو لپاره روزنه ، د اړتیا په سیمو کې د کارمندانو ګمارل په شمول د روغتیایی مرکزونو او هلته یې بیا ځای پرځای کول، د پولې څارنې لپاره اضافي کارمندان په دنده ګمارل، د ځان محافظتی او نورو تجهیزاتو، د امبولانس په بنسټ ریفرل خدمات، د عامې روغیتا وزارت او د روغتیا نړیوال سازمان د عامه پوهاوې موادو ویشل شامل دی، او همدارنګه د ټولنې په کچه د عامه پوهاوې ناستې او د روغتیا پوهنې زده کړې د بې ځایه کیدنې تعقیبي میټریکس ګروپي بحثونو له لارې په ۱۲،۶۰۰ نقطو په ۳۴ ولایتونو کې تر سره کړی دی د لازیاتو معلوماتو لپاره لاندې لینک کیکاږی: [https://afghanistan.iom.int/IOM-COVID-19-Response](https://afghanistan.iom.int/IOM-COVID-19-Response)

د بې اسناده راستنیدونکو کډوالو سره د کډوالی نړیوال سازمان په وخت مرستې

**د کډوالو روغتيا:** ۲۰۲۱ کال د شروع څخه تر اوسه پورې IOM د کډوالو روغتیا پروګرام په نیمروز، هرات، کندهار او ننګرهار ولایتونو کې ۶۰،۵۱۵کورنیو ته د لومړنیو لازمي روغتیا پاملرنې خدماتو عمومي ناروغیو ، مور ، ماشوم او نوي زیږون روغتیایي پاملرنې ، د زیږون روغتیا ، کورنۍ د پلان کولو د کویت ۱۹ خدمات وړاندی کړی دی. او دا برنامه د انګلستان (FDCO) ، د اروپايي اتحادیې ((ECHO د افغانستان بشردوستانه وجهي صندوق او د متحده ایالاتو د نفوس ، کډوالۍ او مهاجرت (BPRM) لخوا یې مالی ملاتړ کیږي .

د تیرې اونۍ په جریان کې په مجموعي توګه ۱۱،۱۶۶ مریضانو د IOM اوو ګرځنده روغتیایی ټیمونو لخوا خدمات وړاندی کړی دي چې ۳،۹۴۵ بستر ناروغانو ته مشورې، ۱۱،۱۶ ښځو او نارینو ته د ټولنې په کچه روغتیا تعلیم زده کړې ناستې او ۱۰،۱۶ ناروغانو ته رواني مشورتي ناستې ترسره شوې دی.

د کډوالو روغتیا پروګرام د نړیوال وجهي صندوق او د څو هیوادونو د نری رنځ او د UNDP سره په ملګرتیا فنډ لاندې د نری رنځ په ټولیز ډول ۸،۸۶۴ بې اسناده افغان کډوال هرات، نیمروز، کندهار او ننګرهار ترانزیټ مرکزونو کې دتشخیص لپاره معاینه شوی چې ددې جملې څخه ۳۰۷ ناروغان چې په نري رنځ اخته (ګومان کیږي) قضیې پیژندل شوی د شکمنو قضیو څخه نمونې د جین ایکسپرټ او نورمال مایکروسکوپي له لارې د TB کنټرول ملي برنامې سره په همغږۍ کې په ټاکل شوي لابراتوارونو کې ازمول شوی دی. البته دنیری رنځ ۶ مثبتې پیښه ثبت شوی ده.

**خونديتوب:**

د IOM د خوندیتوب برنامې په ۲۰۲۱ جریان کی ۲۲۲ غیر راجستر کورنیو سره چي ځانګړې قضیي هم په کې شاملې دی مرستې تر سره کړی چې په وخت سره معلوماتو چمتو کول، خدماتو ته په وقار او خوندي ډول لاسرسي اسانولو، او د پیسو په شمول د مرستې چمتو کول ترڅو ددې لارې د خوندیتوب پیژندل شویو خطراتو کمولو لپاره او منفي تاکتیک میکانیزمونو څخه مخنیوی کول کله چې د راجع کولو خلا موجوده وه. د سکرینینګ کارمندانو سره چې د هرات او نیمروز په سرحدي نقطو او همدارنګه د بیرته راستنیدنې په ۱۱ ولایتونو کې کار کونکي کار کوي. د خوندیتوب په برخه کې ۶۰ نیویو قضیو ارزونه په نیمروز، غور، هرات، کندز، سرپل، بلخ، بدخشان او تخار ولایتونو کې بشپړه شوی ده، چې په دې ارزونه کې ۴ په خطر کی ښځی، ۵ شدیدی طبی قضیی، ۳ زاړه سړی په خطر کی، ۸ ماشومان په خطر کی او ۳ د معلولیت لرونکی قضیو سره مرستی ترسره شوی دی. په ټولو ولایتونو کې ۲،۰۶۲ قضیې فعاله دی، او ۱۳۰ د ځانګړو ضروتونو لرونکو او کورنۍ په میلک او اسلام قلعه کی د کډوالو چار و ریاست سره په هغمږی سره سکرین کړی دی.

همدارنګه د ځوندیتوب ټیم د افغانستان د خوندیتوب کلستر په همکارۍ د کویت ۱۹ منظم نظارت سروې ترسره کوي پدې اونۍ کې ۱۲۵ کورنیو سروې شوې ، چې ټولو د WHO لخوا تایید شوي معلومات او د عامه پوهای او د خطرتاتو کمولو پیغامونه کویت ۱۹ په تړاو پوهاوي ترسره شوی دی.


مور سره اړیکه ونیسئ

IOM Kabul
iomkabul@iom.int
http://afghanistan.iom.int
facebook.com/iomafghanistan
twitter.com/iomafghanistan

## د پاکستان څخه راستنېدنه:

د کډوالو او راستنېدونکو چارو ریاست د سرحداتو نظارتي ټیم په وینا، په ټولیزه توګه ۵۴۱ بې اسناده افغانان په خپله خوښه د پاکستان څخه د ۲۰۲۱ جنورۍ د ۱ نېټې څخه بیرته خپل هیوادا ته راستانه شوي دي. د تیرې په اوونۍ کې په مجموعي توګه ۱۷۴ بې اسناده افغان ګډوال چې (۱ شړل شوی غړی او ۲۲ راستانه شویو کورنۍ غړی) د تورخم او( ۱۵۱ راستانه شویو کورنۍ غړی ) د سپین بولدک پولې له لارې له پاکستان څخه بیرته خپل هیواد ته راستانه شوي دی او د ساړه ژمي میاشتو په دوران کې د کډوالو بیرته راستنیده کموه شوی ده.

په ۲۰۲۱ کال کی د بی اسناده راستنېدونکو کډوالو شمیر

| نیټه | ایران | | | | | پاکستان | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | هرات | | نیمروز | | د ایران مجموعه | تورخم | | قندهار | | د پاکستان مجموعه | مجموعي راستنیدنه |
| | خپله خوښه | شړل شوی | خپله خوښه | شړل شوی | | خپله خوښه | شړل شوی | خپله خوښه | شړل شوی | | |
| ۱ -۰۷ جنوری ۲۰۲۱ | 5,919 | 2,686 | 2,238 | 2,383 | 13,226 | 0 | 46 | 17 | 35 | 98 | 13,324 |
| ۰۸ -۱۴ جنوری ۲۰۲۱ | 4,194 | 3,154 | 2,004 | 2,551 | 11,903 | 0 | 11 | 62 | 0 | 73 | 11,976 |
| ۱۵ -۲۱ جنوری ۲۰۲۱ | 3,567 | 2,556 | 2,140 | 3,104 | 11,367 | 0 | 0 | 196 | 0 | 196 | 11,563 |
| ۲۲ -۲۸ جنوری ۲۰۲۱ | 5,013 | 2,778 | 3,019 | 5,204 | 16,014 | 22 | 1 | 151 | 0 | 174 | 16,188 |
| **مجموعه** | **18,693** | **11,174** | **9,401** | **13,242** | **52,510** | **22** | **58** | **426** | **35** | **541** | **53,051** |

په ۲۰۲۱ کال کی د مرسته شویو راستنېدونکو کډوالو شمیر

| نیټه | ایران | | | | | پاکستان | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | هرات | | نیمروز | | د ایران مجموعه | تورخم | | قندهار | | د پاکستان مجموعه | مجموعي مرسته شوی |
| | خپله خوښه | شړل شوی | خپله خوښه | شړل شوی | | خپله خوښه | شړل شوی | خپله خوښه | شړل شوی | | |
| ۱ -۰۷ جنوری ۲۰۲۱ | 90 | 253 | 77 | 220 | 640 | 0 | 41 | 10 | 35 | 86 | 726 |
| ۰۸ -۱۴ جنوری ۲۰۲۱ | 13 | 54 | 53 | 294 | 414 | 0 | 11 | 62 | 0 | 73 | 487 |
| ۱۵ -۲۱ جنوری ۲۰۲۱ | 32 | 46 | 57 | 263 | 398 | 0 | 0 | 172 | 0 | 172 | 570 |
| ۲۲ -۲۸ جنوری ۲۰۲۱ | 18 | 96 | 19 | 421 | 554 | 22 | 0 | 144 | 0 | 166 | 720 |
| **مجموعه** | **153** | **449** | **206** | **1,198** | **2,006** | **22** | **52** | **388** | **35** | **497** | **2,503** |

د ایران او پاکستان څخه د بی اسناده افغانانو د راستنېدنې اوونیز جریان ۲۰۲۱م




**په افغانستان کې د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) له ټولو لاندینو بسپنه ورکونکوو ، تمویلونکو نه مننه او قدرداني څرګندوی. د نوموړو تمویلونکو ، مالي ملاتړو په مرسته د کډوالۍ نړیوال سازمان وتوانید چې په ۲۰۲۱ میلاد کال کې ۲،۵۰۳ بې اسناده افغان کډوالو سره مرسته ترسره کړه.**

in coordination with

*د انګلستان هیواد نړیواله پرمختیایي څانګه، (FSDO) دفتر، نیدرلینډ، سویس، ایکو
(د اروپایي اتحادیې بشري مرستو څانګه) د امریکا متحده ایالات، د بیړنیو کمکونو وجهي صندوق
او دنړی رنځ، ایډز او ملاریا نړیوال وجهي صندوق*